DAILY
اراده
داخلی نشراتی مرکزطبی خپلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۸۸
شماره مسلسل ۹۵۵
یکشنبه ۲۱ حوت ۱۳۸۴هش
۱۱صفرالمظفر ۱۴۲۷ هـ ق
12 March , 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

ولسي جرګې د خپلو غړو پر حاضرۍ خبرې وکړې



دهیواد د اساسي قانون د ۱۰۸ مادې پر اساس ولسي جرګې د جرګې په عمومي او د کمیسیونونو په غونډو کې د استازو په حضور او غیاب باندې بحث وکړ.

د ولسي جرګې د روښانه وکیلان په دې باور وو چې باید ټول استازي د جرګې په غونډو کې حاضر وي.

په داسې حال کې چې د پارلمان په عمومي غونډو کې د یو شمیر استازو نه ګډون اندیښنې پیدا کړې د ولسي جرګې د تقنین کمیسیون د استازو د حضور او غیاب په اړه یوه لنډ مهاله لایحه پرون د شنبې په ورځ (د کب ۲۰) جرګې ته وړاندې کړه. دغه لایحه ۴ فصله او ۱۲ مادې لري.

«دلایحې پر اساس باید ټول استازي بې له کومې پلمې د ولسي جرګې په غونډو کې ګډون وکړي» ۴مخ

انتقاد شماری از نماینده گان ولسی جرگه

مکتوب ارسالی وزارت دولت در امور پارلمانی به ولسی جرگه مورد انتقاد شماری ازنمایندگان ولسی مجلس قرار گرفت وزارت دولت در امور پارلمان طی نامه از شورای ملی خواسته بود درباره وزرای کابینه به شکل علنی رای اعتماد دهد اما شماری از نمایندگان ولسی جرگه این پیشنهاد را رد می کنند شماری از نمایندگان ولسی جرگه این پیشنهاد را دخالت مستقیم در کار پارلمان میخوانند. یکی از وظایف پارلمان دادن رای اعتماد برای وزرای کابینه وادگاه عالی کشور است که باید پس از سی روز از دایر شدن اولین جلسه به کابینه حکومت رای اعتماد داده شود گرچه تعین وزراء از صلاحیت های رئیس جمهور است اما بر اساس قانون اساسی کشور باید این وزراء رای اعتماد پارلمان را باخود داشته باشند.

په هلمند کې د دوو پولیسو مړی موندل شوي

په هلمند کې امنیتي چارواکو په دغه ولایت کې د ۲ تنو دولتي پولیسو مړي په یوه دشته کې پیدا کړي دي، کوم چې تیره ورځ ناوخته تښتول شوي وو. هلمند دهیواد له هغو سیمو څخه دی چې په کې ددولتي ځواکونو او مخالف جنګیالیو تر مینځ پرله پسې اخ او ډب روان دی.

اختلاس در وزارت معارف

ذبیح الله عصمتی سرپرست ریاست مستقل مبارزه با ارتشأ و فساد اداری میگوید که حدود ۵۰۰۰۰۰ دالر امریکایی در وزارت معارف اختلاس شده است وی هم چنان از ادامه بررسی ها در مورد سو استفاده های مالی و ریاست های دیگر این وزارت خبرداد.

سرپرست ریاست مستقل مبارزه با ارتشا وفساد اداری از ۵۰۰۰۰۰ دالر امریکایی اختلاس و موجودیت ۱۰۰۰ اسناد تحصیلی جعلی در وزارت معارف خبر داده است ص۴

د کنړ والي:
له موږ سره د میرنۍ مور چلند شوی

د کنړ ولایت والي اسد الله وفا تینګار کړی دی چې د ده په وینا ترهګر له پولې پورې غاړې روزل شوي او دوی په دې برخه کې شواهد لري. ۴مخ



عنان د افغانستان په هکله خپل رپوټ وړاندې کړ

د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان د افغانستان په اړوند خپل رپوټ د امنیت شورا ته وړاندې کړ او پر دې یې تینګار وکړ چې په دغه فقیر هېواد کې دې د ملګرو ملتونو دنده دوام وموميي په افغانستان کې د ملګرو ملتونودنده د روان زیږدیزکال دمارچ په ۲۴ نیټه پای ته رسیږي. عنان دنور یو کال دغزیدو غوښتنه وکړه او خرګنده یې کړه چې افغانستان، د امنیت، مرکزی حکومت،بشري حقونو ،اقتصادی او ټولنیزې ودې اود نیشه یي توکوسره د مبارزې په اړوند له ستونزو سره مخامخ دی ده وویل له دولت سره د خلکو د ملاتړ او اعتبار په موخه باید په دې برخو کې پرمختګ وشي عنان وایي سره له دغو ستونزو په تیرو څلورو کلونو کې په افغانستان کې ځانګړی سیاسي بدلون نه راغلي دي ده بیا هم ګوته ونیوله چې افغان دولت لا ډیر کمزوری دی او نه شي کولای په دې اړوند دندې پلی کړي

هنوز ساختمان های دولتی دراختیار قوماندانان مسلح است

رئیس شهر سازی ولایت بلخ میگوید ده ها ساختمان دولتی که درین ولایت از سوی فرماندهان مسلح در جریان جنگ های داخلی غصب شده است مقامات دولتی تاکنون نتوانسته اند این ساختمان ها را دوباره بدست اورند اقای اسماعیل اضافه کرد که ظرف چهار سال گذشته انها قادر شدند تنها چهار ساختمان دولتی را در مزارشریف از تصرف فرماندهان بیرون کند اما تعدادی به مراتب بیشتر از این در اختیار فرماندهان سابق در ولایت جوزجان است که بعد اً به دیگران فروخته شده است ص۴

نماینده گان مهاجرین به کابل آمدند

ده ها تن از نمایندگان مهاجرین ساکن در ژری دشت ولایت قندهار به کابل امدند تا در مورد حل مشکلات شان با مسولان دولتی واعضای شورای ملی دیدار کنند امان الله نماینده مهاجرین در ژری دشت ولایت قندهار گفت که انان از حدود ۳۰۰۰۰ مهاجر نمایندگی میکنند که از کشور های پاکستان و ایران به وطن برگشتند اما بدون دسترسی به امکانات شب و روز شان را سپری میکنند وی گفته که از چندی به این طرف مسولان کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان جیره مواد غذایی را به این عده مهاجرین متوقف ساخته است نمایندگان مهاجرین ساکن در ژری دشت ولایت قندهار گفته اند که اگر به مشکلات شان رسیدگی صورت نگیرد انان در جریان تابستان سال اینده با مشکلات بیشتری مواجه خواهند شد.

اعمار منازل خودسر در ملکیت دولتی

موظفین امنیتی ولایت کابل دو تن از افسران پولیس حوزه شانزدهم و ۴۵ تن دیگر را حین اعمار ساختمان های خود سر در املاک دولتی دستگیر نمودند عبدالجمیل کوهستانی مدیر جنایی قوماندانی اه نیه ولایت کابل میگوید که این افراد شب هنگام به همکاری موظفین حوزه شانزدهم امنیتی که مصروف کارساختمان بودند دستگیر شدند

په تورہ بورہ کې دوه شکمن کسان نیول شوی

په ننګرهار کې ائتلافي ځواکونو توري بورې ته نږدې دوه شکمن کسان نیولی دی

دپولیسو په وینا له نومورو کسانو څخه یوه اندازه وسلې هم تراسه شوی دی ۴مخ

خواب آلوده گان دموکرات در پارلمان ص۲

خواب الوده گان دموکرات در پارلمان!

پرتو نادری

نشد یک لحظه از چشم جدا خواب
زهی خواب، افرین خواب، مرحبا خواب
(به اجازه ء شاعر)

تازه گیها تلویزیون طلوع در برنامه زنگ خطر، تصاویر تکان دهنده یی از پارلمان افغانستان را به نشر سپرده است. امیدوارم که این بار تلویزیون طلوع به مانند تلویزیون افغان به اتهام تجاوز بر ارزشهای ملی و مذهبی یا از ان دست بهانه های که محترم وزیر اطلاعات و فرهنگ جناب دکتور رهین بهتر می داند به چند ده هزار افغانی جریمه نشود!

در تصاویر تلویزیون طلوع دیده می شد که شماری از نماینده گان مردم! در جریان جلسه عمومی پارلمان به خواب راحتی فرو رفته اند. وقتی تصاویر را تماشا کردم نمی دانم چرا به یاد شعر امیر خسرو دهلوی افتادم و با خود اندیشیدم که مردم افغانستان که ظرف سه دهه، گذشته پیوسته به همصدایی، مصیبت و اندوه بزرگ خود را نالیده اند، این بار چه بهتر است که چنان همسرایان سوگوار، امیخته با طنز تلخ تاریخ بسر ایند که ((تو به خواب ناز باشی منی مبتلا نشسته)) جای تاسف این است که این شمار وکیلان خواب الوده، کسانی اند که خود را از پیش اهنگان و داعیه داران جنبش روشنفکری! پاسداران حقوق بشر و از مدافعان فدایی حقوق زن در کشور می دانند !!!!

اگر چنین ادعای هایی درست باشد، این امر به این مفهوم است که (جنبش خواب الوده گان دموکرات افغانستان) شایسته ترینان خود را به پارلمان فرستاده است. شاید هم نیاز به این همه سخگیری نباشد، به گفته مولانای بزرگوار(سخت گیری و تعصب خامی است) در روزگاری که دموکراسی چتر پینه خورده و خون الوده خود را بر فراز این سرزمین نفرین شده ! بر افراشته است بهتر ان است تا به جستجوی دلایل برویم، برای ان که شاید هم خوابیدن در پارلمان در دموکراسی های لیبرال بخشی از دستور کار نشست های پارلمانی باشد. در گذشته های که کامپیوتر و تابعیت های دوگانه و چند گانه نبود، می گفتند که: " سخن هر کس به اندازه ء عقل او ست" و اما این روز ها در عصر کامپیوتر و روزگار حاکمیت تابعیت های چندین گانه، باید گفت که: " سخن هر کس به اندازه ء وضعیت جیب او ست." من که در جیب خالی عقل خود چندین بار و چندین بار دست فرو بردم تنها توانستم چند سکه، نه چندان قیمتی را بیرون اورم. شاید این سکه ها در بازار معاملات پارلمان ارزشی نداشته باشند. به هر صورت من سکه های خود را درمان می گذارم تا دوستان را چه در نظر اید:

+ شما چه فکر می کنید چرا پیشگامان جنبش روشنفکری افغانستان در پارلمان به خواب می روند؟ شاید موضوعاتی که در جلسه عمومی پارلمان بحث می شود ان قدر از سطح اگاهی و بینش های سیاسی اجتماعی انها پایین است که انها یک پینکی خواب را ! بهتر از هر بحث و گفتگویی می دانند! شاید هم انها بیطرف مطلق هستند که در خواب و بیداری با هر نوع فیصله یی موافق اند.

+ چه فکر می کنید شاید هم موضوعات مورد بحث در پارلمان ان قدر از سطح اگاهی این پیشگامان! بلند است که ناچار از در خجالتی خود را به خواب می زنند. شاید هم تازه به عضویت سازمان خواب الوده گان دموکرات پیوسته اند!

ایا شما فکر می کنید که انها در جریان مبارزات انتخاباتی در برابر تفنگ سالاران و حریفان قوی پنجه خویش شب و روز چنان مبارزه دموکراتیک! کرده و بی خوابی کشیده اند که حالا خود را کاملا برحق می دانند تا در خانه مردم هر نوع خرناسی بکشند. من نمی دانم که ایا خرناس کشیدن هم بخشی از ازادی بیان است یانه ؟ اگر چنین باشد مطابق قانون رسانه های اقای رهین ان ها می توانند خرناس بکشند و یا هم به گفته شاعر چیغ بنفش بکشند!+ به نظر شما ایا در این مورد یک عامل تخنیکی تاثیر گذار نیست. مثلا چرا کرسیهای پارلمان را این قدر نرم و راحت و ابریشمین بسازند که حتی برای نماینده گان جنبش روشنفکری ! هم خواب اور باشد.

شاید هم بر بنیاد همان گفته معروف پشتو:(خوب چې راشی بالبښت نه غواړی)

+ شما چه فکر می کنید ، شاید این دسته از نماینده گان چندان ملامت نه باشند به گفته ء صائب:

(که شاهین مشق خونریزی کند در چشم پوشیدن) . شاید انها در پارلمان خواب اینده های افغانستان دموکرات و متکی بر حاکمیت قانون را می بینند. شاید انها در خواب هم در اندیشه کسانی اند که به انها رای داده اند.

+ چه فکر می‌کنید به نظر شما ایا خواب الوده گی نماینده گان یکی از ناتوانی های رئیس پارلمان نیست؟ شاید او نمی تواند نشست ها را به گونه ء دلچسپ وشور انگیز ان دایر کند؟ شاید در حق نماینده گان دیکتاتوری روا می دارد و پس از هر پنج دقیقه جلسه زنگ تفریح نیم ساعته را به صدا در نمی اورد! شاید سخنان او از لون دیگر است که در گوش نماینده گان جنبش روشنفکری و مدافعان حقوق زن خوش نمی اید!

+ پرسش اخر این که شما چه فکر می کنید؟ این مهمانان عالیقدری که تازه از کوره راه مبارزات انتخاباتی و جنگ بی امان با القاعده و تفنگ سالاران به مهمان خانه مردم! رسیده اند و اسبها و قاطر های خود را به اخور های بلند بسته اند، تا چه زمانی در این مهمان خانه خرناس خواهند کشید و مردم تا چه زمانی انها را تحمل خواهند کرد؟

دوستان عزیز!

در جستجوی دلایل خرناس نماینده گان در پارلمان هر قدر که درکوچه ها و پس کوچه ها ی ذهن و اندیشه عقب مانده خویش جستجو کردم نه توانستم دلایل بیشتری پیدا کنم فکر کردم که بهتر است شمار دوستان را نیز در این جستجو شریک سازم. اگر شما دلایل دیگری می توانید پیدا کنید کار شایسته ان است که دلایل تان را در میان بگذارید تا باشد که بتوانیم روزانه دو صدوچهل ونه بسته گولی بیداری به خرناسخانه ء پارلمان بفرستیم تا مهمانان به سخن در اینده واز جابلسا و جابلقا سخنی و حکایتی در میان گذارند. هر چند شیخ اجل سعدی، سده ها پیش از این گفته است:(جهان دیده بسیار گوید دروغ.)

چگونه می توان با خواب الوده گی در پارلمان مبارزه کرد؟

ما می دانیم که این یک امر بسیار دشوار است برای ان که ما در برابر مبارزان جنبش روشنفکری ! قرار می گیریم. به هر صورت حالا که بی گدار به اب زده ایم پیشنهاد های را مطرح می کنیم هر چه بادا باد!

+ شاید بهتر باشد تا بر سر میز هر نماینده زنگی جابجا گردد. زندگی ساخته شده از طلای ناب عربی نه ایرانی نه پاکستانی و نه هم روسی ، برای ان که طلای انها در دوران حاکمیت دموکراسی و مبارزه با القاعده و بنیاد گرایی رنگ باخته است. شاید طلای امریکایی بهتر باشد. وضعیت نیز ایجاب می کند تا این زنگ طلایی از دارالخلافه دموکراسی خریداری شود. اگر چنین نشد می توان دست به دامان ان یار قدیم (بریتانیا) زد.

به هر صورت پارلمان خود در یکی از نشست های عمومی با این مشکل رسیده گی خواهد کرد که بااستفاده از کمک های داده شده در کنفرانس لندن چنین زنگ هایی را باید از کجا خریداری کند. به این زنگها باید زنگهای بیداری پارلمان نام نهاد و دکمه های فشار ان ها را باید بر روی میز رییس پارلمان تنظیم کرد تا اگر وکیلی به خواب می رود رییس بافشار دادن بر دکمه بیداری نماینده مردم را از خواب بیدار کند اما مشکل کار در چگونگی صدای زنگ است ، مثلا شاید کسانی سمفونی هفتم موزارت یا سمفونی از بتهون و یا اهنگی از مایکل جکسن و یا هم اهنگی از فلم تایتانیک را دوست داشته باشند و بخواهند که با این صدا ها از خواب بیدار شوند. کسانی هم ممکن بخواهند با هیاهوی دموکراسی حقوق بشر جندر و چه و چه های دیگر از خواب برخیزند.

شاید هم بعضی از وکلای رقیق القلب مورچه نیاز ار صدای شلیک کلشینکوف ، دهشکه، زیگویک و شاید هم صدای حماسه ساز راکت سرشانه ای توپ و تانک صحرایی را دوست داشته باشد.

جهت تامین عدالت ، ضرورت خواهد بود تا پارلمان برای تعیین نوعیت صدای زنگ بیداری نشست های سازنده و دموکراتیکی داشته باشد.

البته با این شیوه می توان دروازه های پارلمان را به روی بیماری خواب الوده گی بست، اما مشکل در این جاست که اگر رئیس پارلمان ، معاونان، منشیان، کلانکاران حضور و نماینده گان ، همه گان به اتفاق ارا به خواب روند در ان صورت چه می توان کرد؟

به گفته معروف:" خفته را خفته کی کند بیدار."

این مشکل در حالی به وجود می اید که توپ کوه اسمایی سالهاست که از صدا مانده است. اگر چنین نمی بود چاشت گاه هان صدای او می توانست پارلمان اینده ! ما را از خواب بیدار کند.

مشکل دیگر در این ارتباط مساله ازادی بیان است. یگانه دست اورد بزرگ ما در سالهای اخیر! اگر نان برای خوردن نداریم، دست کم زبان دراز برای گفتن داریم! این دیگر مهم نیست که کسی به ان گوش می نهد یانه؟ان مثل معروف یادم می اید که : "د ګازری په خوند نه یم په خرپ یې یم .) اگر " جنبش خواب الوده گان دموکرات" اعتراض کند که چرا در خانه، مردم برای نماینده گان انها حق خرناس داده نمی شود، در ان صورت برای سازمانهای دفاع از ازادی بیان و حقوق بشر چه درد سر های بزرگی پدید خواهد امد و چه گزارشهای که نوشته نخواهد شد!

عقل قاصر من بیشتر از این قد نمی دهد که پیشنهاد دیگری داشته باشم، ولی دروغگو دشمن خدا است که می ترسم اگر روزی در خواب یا بیداری ، وزیر بیدار هوش و بیدار خوابی به پارلمان فرا خوانده شود و هفت کوه سیاه درمیان اگر بیماری خواب الوده گی به جناب وزیر سرایت کند واز ان جا به کابینه برسد در ان صورت اینده دموکراسی، حقوق بشر و جامعه مدنی و مبارزه با القاعده چه خواهد شد.؟

افتاب احمد خان شیرپاو خوار مجبور دی

غلام جیلانی خواک

د پاکستان دکورنیوچارو وزیر آفتاب احمد خان شیرپاو ویلي دي چې د افغانستان نه بلوچستان ته دوسلو لیږدون باید ودریږي

آفتاب احمد خان شیرپاوپه پښتونخواه کي د پیپلزپارټي مشر و، خو د پرویز مشرف د کودتانه وروسته لدي امله چې په یو شمیر مالي درغلیو ککړ و یو څه موده پټ و بیایي پیپلز پارټي پریښوده او د مشرف د تیم یو غړی شو، په دي توګه له مالي درغلیو یي سترګي پټي شوي اواوس دادی د پاکستان دکورنیو چارو وزیر دی تردي دمخه هم د بلوچستان ګورنر ورته څرګندوني کړي، خو پاکستان ته دښاغلي کرزي دسفر نه سمدلاسه وروسته د مشرف او شوکت عزیز او اوس د شیر پاو خبري یو ځل بیا د پاکستان دا نیت په ډاګه کوي چې نه غواړي دترهګرو سره په مبارزه کي له افغانستان سره همکاري وکړي دبلوچستان ستونزه کومه اوسني ستونزه نده له کومی چې پاکستان زیږیدلی د بلوڅو، ولسونو د خپلې خپلواکی لپاره مبارزي پیل کړي د شیرپاودپخواني مشر ذولفقار علي بوټو د واکمني پرمهال پاکستان پر بلوچستان پوځي یرغل وکړ، ډیر شمیر بلوچان ووژل شول او یا افغانستان ته په تیښتي اړ شول. دپاکستان پنجابي واکمنانو نه یواځي د بلوچو بلکي د پښتنو، سندهیانو اوکشمیریانو حقوق هم پرپښولاندي کړي او په پښتونخواه، سند، بلوچستان او کشمیر کي بیلابیل غورځنګونه دخپلې خاوري د آزادي لپاره په مبارزه بوخت دي، د پاکستان د بیروکراسي لویه برخه پنجابیان دي د سند، پښتونخواه او بلوچو سیمي د پنجابیانودمستعمري حیثیت لري، دا ټول څه کم شپیته کاله چي پاکستان منځ ته راغلي پاکستان کي د پښتنو، سندیانو، بلوچو او کشمیریانو حقوق ترپښو شوي او ددوي ملي او قومي هویت د نیستي د ګواښ سره مخ دي، ښکاره خبره ده په اوس مهال کي دا ممکنه نده چي ملتونه تر ډیره یرغمال وساتل شي په بلوچستان کي د غازو ډیري پراخي زیرمي وجود لري، په همدي غازو د پنجاب کارخاني چلیږي خوبلوچان تري محروم او کورونه یي تورتم اوساړه دي پاکستان د کالاباغ د بربنا د بند پرجوړولو غواړي د پښتونخواه یواخینې کرنیزي سیمي تر اوبو لاندي اوپه دي توګه دپښتنو اقتصادي ملا ماته کړي ترڅو پښتانه ونشي کولاي خپلو آزادي غوښتونکو مبارزو ته ادامه ورکړي او پښتانه یواځي د پنجابیانوپه کارخانو کي دمزدورانوپه توګه خپل ژوند ته ادامه ورکړي، د پنجابي استعمار دهمدي ظالمانه کړنو له امله د پاکستان پخواني ایالت بنګال تري خپله خپلواکي تراسه کړه اواوس دبنګله دیش په نوم یو خپلواك هیواد دي.نن بلوچان پاڅون ته اړ شوي صبا به پښتانه، سندیان اوکشمیریان هم دپاکستان بیرغ ترپښو لاندي کوي او خپله آزادي به غواړي. په بلوچستان کي د بلوچو پاڅون د پاکستان د استعماري سیاستونو منطقي پایله ده، نه د چا دلاسوهنو. شیرپاو صاحب رازه چي زه تا ته د شوکت عزیز او مشرف هغه خبره چي دافغانستان په هکله یي کړي، تکرار کړم. بقیه ٤

راتلونکی د ځوانانو ده

متصدی: ناصر بشر

الحاج جان آقا عارفی:

جوانانی که از تعلیم باز می مانند در مرکز حرفوی افغان ـ کوریا تربیه میشوند



زمونږ په هیواد کې اوږدو او تپل شوو جګړو زیاتې بدبختی رامنځته کړې چې دژوندانه ټولې خواوې یې لړزولی دی او تر هر څه یې د تعلیم او تربیې خوا زیاته وروسته پاتې کړیده دیوې ټولنې ماشومان تنکی ځوانان او ځوانان راتلونکی کادرونه دی چې دهیواد په ټولو ورانو شوو برخو کې دبیا رغاونې برخه په خپلو لاسونو او مغزونو سره پیاوړی کوی او ټولنه دخپلو ځوانانو دخدمت لپاره سترګې په لار وی خو له بده مرغه چې زمونږ په ټولنه کې دبیلابیلو واکمنیو په دوران کې دبیلابیلو علتونو له امله ځوانان له پرلپسې زده کړو ځخه پاتې شوی دی چې همدا اوس نه یوازې دا چې له زده کړو پاتې شوی بلکې دحرفوی زده کړو دنشتوالی له امله له بې روزګاری سره مخامخ شوی دی.

په هیواد کې دځوانانو په وزارت باندې زیاتې نیوکې همدا دی چې دخپل جوړیدو له وخته یې تر اوسه پورې نه شوای کړی چې په هیواد کې دځوانانو لپاره دکاری بوختیاوو په برخه کې قناعت ورکوونکی کامونه پورته کړی که څه هم دځینو موسسو له خوا له ۱۳۷۱ کال راهیسې دځوانانو دحرفوی روزنې په برخه کې کار شوی دی خو دا چې د رده کړې موده یې کمه وه دغو نیمګړو زده کړو ورته څه ګته ونه رسوله دا چې مونږ په حرفوی خواوو کې په کافی اندازه کار کړ نه لرو نو اوس دبیا رغاونې په بیلابیلو برخو کې له پهر څخه کار کړ استخدام شوی دی که چیرې مو خپل روزلی وای دبهرنیو له استخدام څخه به خلاص وو او خپلو پیسو به په دننه کې دوران پیدا کړی وای. خو له نیکه مرغه چې په کابل کې دافغان کوریا دمسلکی ترېننګ مرکز دکار او ټولنیزو چارو وزارت په چوکات کې د ځوانانو دروزلو لپاره تیر کال په کار لاس پورې کړ تیر کال یې دخیاطی، کمپیوټر، بریښنا، ولدنګ کاری، موټر، ساختمانی څانګو کې ۲۸۰ تنه خوانان وروزل دا دی سږ کال بیا دځوانانو دروزنې لپاره خپله تیاری ونیوده دنومورې مرکز مشر الحاج جان آقا عارفی د ارادې ورځپاڼې خبریال ته پرون د امتحان صحنه کې وویل:

سال ګذشته ۲۸۰ شاګرد د در رشته های مختلف تربیه و اموزش دیده و برای شان شهادت نامه توزیع گردید

امسال به اساس خواسته های مراجعین و ضرورت بازار تصمیم گرفته شد که در رشته خیاطی ولدنګ، کمپیوتر، موتر و ساختمانی ۴۲۸ شاګرد جذب می گردد که به همین منظور دیروز امتحان داو طلبان اخذ گردید البته آنهاییکه موفق میګردد همزمان درس های مسلکی آن شروع میګردد.

عارفی افزود که دروس شاګردان هشت صبح شروع و تا ۳:۳۰ روز دوام خواهد نمود. شاګردانیکه از ولایات میباشد درلیلیه شامل میشود وشاګردان مرکز به طور نهاری دروس خود را پیش میبرد

برای شاګردانیکه فارغ میشوند شهادت نامه برایش داده میشود وبرای خود در بازار کار پیدا میکنند و اداره هم کوشش میکند که حتی الامکان جهت کاریابی همزمان به ادارات و موسسات تماس های بر قرار گردد.

ما در این مرکز دربخشهای حرفوی جوانانی را تربیه مینمایم که از طریق مکتب تعلیم کرده نمی تواند.

قسیم الرحمن چې دنادریې دلیسې د ۱۲ ټولګی څخه فارغ شوی دی او په ساختمانی څانګه کې امتحان ورکوی وایی:

زه که څه هم له ۱۲ ټولګی څخه فارغ شوی یم دکانکور

ازموینه مې هم ورکړیده خو اقتصادی مشکلات لرم که کامیاب هم شم ویلای یې نشم نو اوس مې له خپل ذوق سره سم د ساختمانی په څانګه کې ځان شامل کړی دی که کامیاب شوم هیله من یم چې له دې لارې هیواد او خلکو ته دخدمت جوګه شم.

محمد علی که خود را ۲۷ ساله معرفی میکند میگوید:

در سال ۱۳۷۱_۱۳۷۲ از مکتب فارغ شدم آما بعد به ایران مهاجر شدم و نسبت مشکلات اقتصادی داریم نمیتوانم دروس مکتب را

تعقیب نمایم حالا رشته موتر را به علاقه خود انتخاب کردم زیرا شاګرد مستری بودم کم وبیش با رشته موتر اشنا هستم اگر کامیاب شوم دوست دارم که درین رشته کار کنم.

حبیب الرحمن چې له وردکو څخه راغلی او سږ کال ۲۴ کلن دی وایی که څه هم له ۱۲ ټولګی څخه دعبدالکبیر له لیسې څخه فارغ شوی یم دغریبی له امله نور تعلیم نشم کولای نو د بریښنا څانګه مې وتاکله اقتصاد مې خراب و

خو عبدالواحد چې له ۹ ټولګي څخه فارغ شوی دی ټوله پره په ښوونځی اچوی

وایی ښوونځی سم نه و درس په کې نه و مجبور شوم چې دلته راشم دکمپیوټر څانګه وتاکم کله چې فارغ شوم بیا به مکتب ووایم.

درین مرکز نه تنها پسران تربیه میشوند بلکه دختران هم شامل امتحان شده اند یکی از دختر ان که خود را بلقیس معرفی میکند میگویند:

ما از پاکستان امدیم انجا از مکتب امام حسین بی بی عایشه از صنف ۱۱ فارغ شدم.

چون اینجا شرایط برای من آماده نیست که به مکتب بروم اقتصاد پدرم ضعیف است، امدم که خیاطی یاد بگیرم تا در آینده کار کنم وزنده گی ما خوب شود.

کله چې د ازموینې صحنی نه تر ازموینې دمخه داخل شوم داسې ښکاریده چې دازموینې لپاره دکورنیو او بهرنیو مسوولینو دمنظم پروګام له مخې بالکل نظم برقرار وپه منظمو لیکو کې مراجعینو دامتحان لپاره تیاری نیولی و که چیرې دداسې مسلکی کورسونو لپاره دنورو ادارو او موسسو له خوا زمینه برابره شی ویلای شو چې زمونږ زیات وزګار ځوانان به وکړای شي حرفوی زده کړې تر لاسه کړی. اوپه راتلونکی کې به نه یوازې د خپلې کورنۍ لپاره بلکې د خپلې ټولنې لپاره به هم ګټور تمام شي.

دځوانانو د روزنې لومړنی مسوول څوک دی؟

لا اوس هم زمونږ په هیواد کې موازی توګه حرکت وکړی.

پخوانی نظر موجود او زیات پلویان لري او هغه دا چې ډیر په دې اند دی چې زده کړه یوازې په ښوونځیو کې رامنځته کیږي او ډیر دخپلو بچیانو دتعلیم اوروزنې دنده یوازې او یوازې د ښوونځیو په غاړه وراچوی کله چې خپل بچیان په ښوونځیو کې شامل کړی بس نوره خبره پای ته ورسیږي بیا دخپلو اولادونو خیال ورسره نه وی.

پخواهم داسې یو نظر موجود و چې زده کړه په ښوونځیو کې کیږي خو اوس دغه نظریه بدله شوې ده برخلاف زده کړه دهور له غیږې څخه پیلیږي او دیو انسان د ژوند په ټولو حالاتو کې چې چیرې دهغه حرکت ناسته او ولاړه موجوده وی صورت نیسي.

دبیلګې په توګه دمور غیږه کورنۍ چاپیریال کلی، ښوونځی، کتابونه اخبارونه رادیو، تلویزیون، دیش، انترنت، ځپله تجربه، کړه وړه دنورو تجربې او

دا هر څه دیوانسان په زده کړه او رزونه کې منفی او مثبتې اغیزې لري ځیرنو ثابته کړیده چې دیوانسان یا که ووایو د ماشومانو بیا تنکیو ځوانو او ځوانانو په روزنه تعلیم کې کورنۍ او چاپیریال زیاته اغیزه لري که چیرې کورنۍ له لومړی پیل څخه خپل کوچنی ماشومان تر زده کړې او روزنې لاندې ونیسی ښوونځی ته تر تګه پورې ډیر څه زده کولای شي.

تاسو ګرانو لوستونکو به خامخا په خپل ګاونډ او یا دځینودوستانو په کورونو کې لیدلی وی چې د ډیر کم عمر ماشوم میلمه ته سلام اچوی لاس ورکوی یا پلار ورور ورته وایی چې کاکا ته سلام ورکړه لاس ورکه هغه کوچنی لاس ورکوی ان چې خبرې به هم نشی کولای یا خو یوازې د سلام په کلیمه سره لاس ورکوی او ډیر به مو داسې هم لیدلی وی چې خپلې ما شومان نه یوازې دا چې دمیلمه د سلام او احترام په فکر کې نه وی هغه خوښې نه هم نه راځی او تر هغوی دزیات عمر ماشومانو په ټیر بیا هلکان ځینې آن چې ګاونډیان په تکلیفوی او کله چې داسې هلکان دښوونځی په چوکاټ ننوځی د ښوونکو لپاره یوه لویه ستونزه رامخته شي په تعلیمی مرکزونو کې تر زده کړې هم زیاته دروزنې خوا ډیره مهمه ده اویا خو باید دواړه خواوې په

کې چیرې یو څوک دعلومو په کومه ځانګه کې د ډاکټری دپیلوم ترلاسه کړی او یا خو په دینی علومو کې دمدرسو په حساب لویه دوره هم وکړی خو چې روزنیزه خوا یې کمزوری وی په ټولنه کې درنښت نشې ترلاسه کولای او خپله ټوله خواری په اوبو لاهو کړی چې دخپلې ټولنې په خورو ورو سیمو کې داسې ډیر کسان لیدلی شو ددې مثال په داسې ډول بیانولی شو لکه داوبو په یو ډک سطل کې چې دځینلو او خوراک لپاره را وړل شوی وی او یو ځاځنکی رنګ په کې واچول شي نو دټول سطل د اوبو رنګ ورسره بدل شي او که نور هم ورزیات شي نو له استفادې څخه هم ووځی دغه ډول دتعلیم او روزنې خبره هم ده. که چیرې له تعلیم سره ر وزنه نه وی داسې اشخاص دکورنۍ او ټولنې په درد نه خوړل کیږي. په ډیرو خایونو کې به ګرانو لوستونکو لیدلی او اوریدلی وی ځینې ځوانان لاځه کوی چې دخپلو پلرونو لاسونه مچې کوی د خپلو میندو انا او نیکه دغه راز ورونه هم دخپل مشر ورور لپاره لاس په نامه ودریږي او لاسونه یې مچې کوی خو ډیرو ځوانانو خپل پلرونه ووژل ډیروورونه ووژل او ځینو پلرونو خپل زامن وویشتل که چیرې یې لاملونه ولټول دابه څرګنده شي چې دداسې ځوانانو روزنه له خپلو کورنیو څخه کمزوری ده او اصلاً بنسټ یې کمزوری اینبودل شوی دی.

نو په پای کې باید ووایو چې باید دروزنې برخه له کورنیو څخه را شروع شي که چیرې کورنۍ دخپلو اولادونو لپاره دروزنې خوا تر خپل کنترول او خارنې لاندې ونه نیسی دداسې خوانانو روزنه په ښوونځیو کې ستونزې رامنځته کوی یعنې کورنۍ او ښوونځی باید اوږه پر اوږه دروزنې په خوا باندې فشار واچوی او تل دځوانانو په برخه کې په تفاهم کې اوسی او که چیرې داسې نه وی ویلای شو چې زمونږ هغه هیله چې دځوانانو لپاره یې د روزنې او تعلیمی سطحې دلوړولو او دراتلونکو مسلکی کادرونو په برخه کې لرو نیمګړې پاتی کیږي او دا نه یوازې. دکورنیو او ټولنې لپاره یو سردرد دی بلکې پخپله دځوانانو لپاره هم دژوندانه یو تریخ حالت رادمخه کوي.

زمونږ کشتی یی ډوبولـــه خپـــل دریاب یی توفانی شو!!

تیره ورځ مـی لـه ډیرو کلونو وروسته خپل یو هم صنفی په بازار کې ولید داسی هم صنفی چې د جګړو لـه پیل څخه مـی نـه ولیدلی ځکـه چـې د نـورو افغانـانو پـه څیـر د پاکستان پـدی پراخه خاوره کې یې ایله خپل د مسافری ژوند کړی دی که هغه را باندی غږ کړی نه وای خدای خبر چې ما به پیژندلی وای. خو د هغه لباس او ژبه کې پوره بدلون راغلی و په خبرو کې به تری په بنوځی لهجه تری خبری راتللی هغه راتـه ووی چې مـا پـدی مسافری کې یو ستر تاوان وکړو اوهغـه دا چـې مـا د اولادونـو مینـه لـه وطن سره لـه منځـه وړی ده بهرنـی هیوادونـه خـو لا څه کوی چې لدی نږدی بنو څخه زما اولادونه نه راځـی او بیخـی بنـو ځانی شول مونږ ته یی ویل چې تروریستانو ته ځای مه ورکوه هغه به په ټپه منکر و خو مونږ به لیدل چې ور روان به وو اوس پـه وزیرستان کې څوك موسیقی نشی غږولی د طالبانو ترانی روانی دی فلمونه هر څه بند دی اوس چې جګړه روانـه ده اوسیدونکی خلك د مرګ لـه ویری تر بنو پوری را مهاجر شول د افغانستان کار پری وشـو پاکستانی مشران لدی څخه خبر نه وو یـا ورتـه متـوجی نـه وو چې یوه ورځ بـه دغـه بندیزونه زمونږ په وطن کې رواج کړل مشرف د افغانستان لپاره پرکـه ایښی اوس په خپلـه پـه کې را ګیر شو.

سایبه دا وزیرستان او قبایـل ټول لـه هر ډول وسلو ډك دی همدا اوس چې د پاکستان د پوځ سره یې جنګ دی څه خلك تری زمونږ خواته را وس یې ورسیږي

اصلی خبره پدی کی ده چې پاکستان کې داسی خلـك شـتـه چـې تروریستان دافغانستان لپاره روزی خو دا چې وایـی چـې افغانستان وسله ورکوی غلطه خبره ده بیخی غلطه ده خپله قبـایلو کـې پـه مـرګ وسلی دی ګدامونـه دی او په پیسو یې تر لاسه کړی دی په اولس کې

پـه هغـی کـې خپلـه ولویـږی زمـونږ پـه ګاونـډی هیـواد همـدا کار وشو په خپل رنګ کـې کـوټ شـو زمـونږ د پـاره یې روزل او د لـرم په څیر یې خپله هغوی ته هم نیشونه ور اوړده کړل او دا خـو لا د پټی سر دی پټی بیرتـه سور ور دی دا جګـړه چـې اوس پـه وزیرستان کـې روانـه ده دا بـه ورو ورو پراخیږی او تـاو بـه یـې نـورو سـیمو تـه ورورسیږی.

خـو اوس هـم لا پیـل دی باید چـې پاکستان لـه همـدی پیـل څخـه د هغـوی د ریښـو ایستلو لپاره کلکه ملا وتړی او زمونږ له هیواد سره پـه تفـاهم دغـه لګیـدلی اور او دغـه بنسټپال حرکتونه چې د ټولی نړی د مسلمانانو هم په تاوان دی پای ته ورسوی.

او که نه خپله به هم په دغـه اور کـې چـې خپلـه یـې بـل کړی وسوځیږی مونږ ځورلی بچیدونکی یو خو د هغوی په لوری د نا ارامی اور ور روان دی.

څه لیدلي څه اوریدلي

اشرف

روان دی او څـه تـری افغانستان نه تښتی.

اوس اوس هم پاکستان وایی چې زما په خاورو کې طالبان نشته نـو پدی کوتـه کې چې په موسیقی بندیز ونـه لګـوی دا څـوك دی دا چې غرونـه تـه تښتی او وسـلی ورسـره دی دا څوك دی افغانستان تـه یـې زړه کـې ښـه نـه وه خپله په کې را ګیر شو ځکـه دا خلـك پـه خپلـو هم صرفه نـه کـوی چـې

هم د حمایی خلك لری د هغـو پـه ډاډ عملیـات کـوی کـه پاکستان یـې مخـه ونـه نیسـی افغانستان خو به ورنه خـلاص شـی خـو دپاکستان لپاره ستر خطر پیښوی.

هغـه لاراتـه خبری کـولی مـا تـه هغـه شعر را یـاد شو چې زمونږ کشتی یې ډوبوله خپل دریاب یی توفانی شو.

څوك چې چا په لاره کې کوهی کینی کیدای شی

د کنړ والي...

دا په دې وروستیو کې د افغان چارواکو لـه خوا د هغو څرګندونو د لړی یوه بله کړۍ بلل شوې چې وایي اورپکې له پاکستانه ور اوړي او اسلام اباد په دې برخه کې ډیر څه نه کوي

ښاغلي وفا په داسې وخت کې دا خبرې کولې چې د افغانستان د کابینې یو شمیر غړي او یو لوړ پوړي امریکایي جنرال د کونړ ولایت په مرکز اسعد اباد کې له ځایي چارواکو او خلکو سره لیدل.

کونړ ته په ورغلي پلاوي کې د اقتصاد ، ښار جوړولو ، قبایلو ، په امنیتي چارو کې سلا کار وزیر او په افغانستان کې د ګڼ هیوادیزو ایتلافي خواکونو قوماندان ډګر جنرال ایکین بیري شامل و د کونړ والي ګیله وکړه چې کابل د کونړ ولایت بیا رغاونې ته پام نه کوي. امریکایي جنرال وویل اورپکې په افغانستان کې له بیا رغاونې سره وران دي. د د په وینا اورپکې د افغانستان ښوونځي سوځوي او کار کوونکي وژني. د د لارو د پخولو او کوچنیو بندونو د جوړولو ژمنه وکړه د ښار جوړولو وزیر انجینیر یوسف پښتون ژمنه وکړه چې د کونړ ځینو سیمو ته به د څښاک اوبه برابروي. پښتون وویل کونړ اوبه ډیرې لري او دی هیله لري چې په شپږو میاشتو کې به د اسعد اباد په ګډون درو ښارونو ته په دغه ولایت کې د څښاک اوبه برابرې کړي.

د ښار جوړولو وزیر دا هم وویل چې د ورېښمو لرغونې لار له کونړه تیره شوې او دوی به هڅه وکړي چې دغه لار بیا د سوداګرۍ په یوې مهمې لارې بدله کړي.

د کونړ والي اسد الله وفا وویل که څه هم په دغه ولایت کې د امنیت وضعه تر پخوا ډیره ښه ده او کوکنار هم پکې اړول شوي دي خو کابل د بیا رغاونې په چارو کې ورسره د میرنۍ مور چلند کړی دی.

هنوز ساختمان های...

این اظهارات رئیس شهر سازی در ولایت بلخ در هفته دوم روند حسابدهی مقامات ولایت بلخ ابراز شد درین نشست انجینر یونس مقیم شهر دار مزار شریف به برنامه کاری اش پرداخته و گفت در سال پیشروی خورشیدی تغیرات جدی را برای سازماندهی در سراسر شهر مزار شریف بوجود خواهد اورد او از افزایش تعداد کارگران برای تنظیف شهر درین زمینه نام برد.

اختلاس در وزارت...

عصمتی میگوید که اختلاس تنها از سوی مقامات صورت نگرفته است و مامورین پایین رتبه نیز درین مورد دخیل هستند اما وی از فرد مشخص نام نبرد. محمد صدیق پتمن معین اداری و کدری وزارت معارف ساختار اسناد جعلی تحصیلی را رد نکرد و گفت درین مورد اقدامات جدی کرده اند ودها تن متهم به خارنوالی معرفی شده است عصتی میگوید که بررسی ها از سوی هیبت این ریاست در عرصه های مختلف هنوز هم ادامه دارد.

په توره بوره کې...

دغه دوه تنه چې دننګرهار ولایت دپچیر وآګام اوسیدونکی دی دامریکا په مشری ائتلافی خواکونو تیره ورځ نیولی دی دننګرهار ولایت دامنیی قوماندانی مطبوعاتی مسوول سمونوال غفور خان وایی چې دنیول شوو کسانو په اړه دوی ته له وړاندې راپور ورکول شوی و دهغه په وینا دنیول شوو کسانو له کورونو نه دوه راکټونه او پنځه میله کلاشنکوفونه ترلاسه شوی دی دیا دشوو خلکو په اړه پولیسو معلومات نه دی ورکړی چې جرم یې څه دی خو وایی وروسته تر پلټنو به یې برخلیك څرګند شي.

اګام هغه سیمه ده چې داسامه بن لادن پخوانی مرکز توري بوري ته نږدې پرته ده.

ولسی جرګې د خپلو...

له دې سپره سره چې یو شمېر استازي د داسې اصولو پښتونکي وو چې له مخې یې باید وکیلان دې ته اړوي چې خپلو دندو ته حاضر وي یو شمېر نورو بیا دا خبره کوله چې نه هیواړي د ځانونو لپاره بندیزونه جوړ کړي. دوی دا دلیل وړاندې کاوه چې هیڅ استازي بې له کوم قانوني عذر څخه نه هیواړي چې د پارلمان غونډو ته رانه شي په دغه لایحې لابحث روان دی خو د ۸ مادو د منلو له مخې استازي باید چې د پارلمان د غونډو نظم وساتي او که کوم کار ولري نو د اداري هیت یا د خپل کمیسیون تر خبرولو وروسته دې ولاړ شي.

افتاب احمد خان شیرپاو...

پاکستان پخپله مکلف دي چې له خپلو پولو ساتنه اوځارنه وکړي او پـرې نـږدي چـې بلـوچ آزادي غوښـتونکوته وسله ورسـیږي، خـو ډاډمـن اوسـه د بلـوچ آزادي غوښـتونکو تـه وسله له افغانستان څخه نه لیږل کیـږي، وایـي کوهي مه کنه دبل سړي په لار کې --- چیري ستا بـه د کـوهي پـه غـاړه لار شي. آیـي ایـس آیـي د جهاد په مهال لدي لپاره چـې پـه جهـادي قومنـدانانو د سیاسـي ګوندونو نفوذ کم کړي او آیـي ایـس آیـي پخپلـه وکولای شي نیغ په نیغه قومنـدانان ترخپـل کنترول لاندې راولي نو د وسلو ویش یې پخپل لاس واخست، د آیي ایس آیي همدې پالیسي په پراخه توګه د وسلو خرڅون تـه لار پرانسـتله او د کلاشینکوف نـه نیـولي ټرراکټ لانچرو پـوري د پاکستان ګوټ ګوټ تـه ورسـیدې نـو بلوچـان ضرورت نلري له بل ځایـه وسله راوغواړي د چا چې هر رنګه وسله په کار وي د پاکستان په هز ګوټ کې پیداکیداي شي، نو دا ویل چې بلوچستان تـه لـه افغانسـتان نـه وسله راځي یوه بې ځایه خبره ده.

شـیر پـاو پخپلـه هـم پـوهیږي چـې د ده خبـره څومره بـې ځایـه ده، خوبیاهم پاکستان په خپل دي بې ځایه دریځ غواړي چـې یـو خـو د افغانـانو ددې شـکایت مخـه ونیسي او هغه ته ځواب ووایـي چـې پاکسـتان ترهګران روزي، ساتي او ورانکاریولپـاره یـې افغانستان ته لیږي، اوله بلي خوا په دې تور چې ګواکې هند د افغانستان له لاري په پاکستان کې ورانکـاري کـوي غـواړي پښتنو، بلوچو، سندیانو او کشمیریانو په سیمه کې چې پنجابي استعمار کـوم ظلمونـه او نـاروا کـوي پرهغـې د نـړۍ سترګې پټې کړي او په دې سیمو کې دخلکـو د آزادي غوښـتنې غورځنګونه پردې مداخله وبـولي شیرپاو سره لـدې چـې پښتون دي او په دې هرڅه پـوهیږي خـو د وزارت څوکي او د درغلیـود محـاکمي ویـري یـې سترګې پټې کړي، مشرف پښتونخواه تـه راغـواړي او دکالاباغ بند ملاتړ کوي او د بلوچو د ازادي پـاڅون پرهنـد او یـا افغانسـتان تپـې نـو شیرپاو تـه ګناه نشته، شیرپاو خوارکي مجبور دي

ERADA Daily

زیرنظـرهیـات تحـریـرانتشـار میبابـد
موسس وصاحب امتیاز: حـاجی سیـد داؤد
مدیر مسوول: سهـراب دیدار

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

قیمت یك شماره ۳ افغانی